عبدالرحمن فرقانی ۲۰۱۰/۷/۱۲

# اســراء او مـعـراج

## د نوی نبوت او نوی قیادت ځانګړتیا

سفــر و کاوه مـوسی طــور سینی ته　　سفــر وکاوه ادریس عیسی سمــا ته
محمد وخوت بالذات (عرش اعلی) ته　　مـقـرب ( قاب قـوسین اوادنـــی ) ته
فکروکړه ته بیان د (( ما اوحی )) ته　　له زړه ځیرشه ته برهان د(مایغشی) ته

اسراء هغه ځمکنۍ رحله ده ، چه الله تعالی د رسول (ص) لپاره د شپې په اوږدو کې د مکې مکرمې نه فلسطین (قدس) ته .. د مسجدالحرام څخه مسجد الاقصی ته ممکنه کړه.
اومعراج هغه سیاحت ؤ ، چې د ځمکې نه آسمان ته .. د قدس نه سموات العلا ته ، دآسمانونوهغې برخې ته چې لدې وړاندې بشر نه ؤ ورسیدلی (سدرة المنتهی) او هغه لوری ته چې الله تعالی پرې عالم دی ..ترسره شو . دغه دواړو سفرونو ته اسراء والمعراج ویل کیږی . دعلماءو د جمهورو په عقیده، رسول الله (ص) په ویښه (بجسده المبارک ) معراج ته بیول شوی دی ، یوازی د دوه دریو تنو صحابوو څخه نقل شوی ، چې رسول الله صلی علیه وسلم دیوه عجیب اوغریب خوب په حالت کې دا سفر تر سره کړی دی ، خو دعلماءو د جمهورو په قول او استدلال دا تفسیر د دغې رباني معجزې له غرض سره سمون نه لری ، نو ځکه راجح قول دا دی ، چې رسول الله (ص) په ویښه دا سفر تر سره کړی دی.
په مکه مکرمه کې د رسول الله (ص) په ژوندانه کې اود اسلام دین ته د دعوت په ډګر کې دا دوې رحلې ځانګړی اهمیت لري ، وروسته لدې چې رسول الله (ص) په مکه مکرمه کې د الله جل جلاله د دښمنانو له لوری ډیر کړاونه او دردونه وزغمل ، اوبیا ئې ګمان وکړ چې کیدای شی په طایف کې دطایف خلک تر قریشو ښه معامله ورسره وکړی ، نو طایف ته ئې تشریف یووړ، خو له بده مرغه هلته ئې تر قریشو ډیر ظالمان اوبې رحمه خلک ولیدل . د طایف خلکو خپل غلامان ، لوچک او بې بندباره کسان درسول الله (ص) د ځورولو لپاره وګمارل ، رسول الله (ص) ئې په تیږو وویشته ، آن تر دې چې له مبارکو پښوو ئې وینې بیدلې ، پداسې حال کې چې زید بن حارثه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مولا هڅه کوله چې له رسول الله نه دفاع وکړی ، او هغو تیږو ته ئې ځان سپر کړي ، چې رسول الله (ص) پرې ویشتل کیده ، ترڅوئې سر دوه ځایه څیرې شو.
رسول الله (ص) له طایف نه پداسې حالت کې ووت ، چې مبارکې پښې ئې زخمی وې ،اووینې ورنه بیدلې ، خو رسول الله (ص) دخپلو پښو زخمونو دومره ونه ځوراوه ، څومره چې د خلکو خبرو د ده مبارک زړه زخمی کړ . پدې وخت کې الله تعالی د غرونو ملائیکه رسول الله ته ولیږله ، د غرنو ملایکې رسول الله (ص) ته وویل : که غواړی په دوی باندې به دوه غرونه یوځای کړم ، دوی به د دوه غرونو تر منځ نابود کړم ، خو رسول الله صلی علیه وسلم سره له ټول عذابه چې په طایف کې ورسره مخ شو دا ونه منله ، چې دطایف خلک د دوو غرنو تر منځ نابود شي ، او ویې فرمایل : زه هیله من یم چې د دوی له نسله به داسې خلک پیدا شي ،چې دالله تعالی عبادت اوبندګي وکړی ، اود الله تعالی سره به څوک په خدایۍ کې شریک نه کړي. یا الله ! ته زما دې قوم ته هدایت وکړی، دوی نه پوهیږی ..
لدې ټولو کړاونو نه وروسته الله تعالی رسول الله (ص) ته دا رحله برابره کړه ، له یوه لوری ئې دکړاونو اوتکلیفونو پاداش ورکړ اوله بل لوری ئې پدې پوه کړ چې کې د ځمکې اوسیدونکی له تا مخ اړوي ، خو دآسمان اوسیدونکی دې هرکلی کوی ، که دا خلک ستا د دعوت مخنیوی کوی ، خو الله تعالی دهرکلی کوی ، او پیغمبران د امامت منی . دا د الله تعالی له اړخه درسول الله تکریم او قدرداني وه ، او د دوهمې مرحلې لپاره د رسول الله (ص) روزل او تیارول وو .
اسرا اومعراج اوهجرت درسول الله (ص) په ژوندانه کې هغه روزونکی مرحلې وی ، چې رسول الله (ص) ئې د هغې بنسټیزې مرحلې لپاره تیارکړ، هغه مرحله چې د جهاد او مبارزې مرحله وه ، د ټولو عربانو سره د وسلوالې مبارزه مرحله ، داسلامی حکومت د جوړولو مرحله ، د الله تعالی داحکامو د پلی کولو مرحله ، دا پداسې حال کې چې ټول عربان ئې په ګډه دښمنان وو ، بت پرستان له یوه لوری او مجوس له بل لوری ، او همدا راز یهودان او عیسویان ، چې په انجیل کې ئې د خپلو نفسی غوښتنو په بنسټ لاسوهنې کړی وې ، او د توحید عقیده ئې له بت پرستۍ سره ګډه کړې وه ، له دریم لوری ورسره دښمنی کوله . نوپکار وه تر څو نبی کریم (ص) د دغې مهمې او لویې مرحلې لپاره تیار شي ، تر څو د دغو ټولو جبهو سره پدې لړ شمیر کسانو اوپدې نا چیزه وسله مقابله وکولای شی ، نو ځکه الله تعالی وغوښتل چې دآسمانونو او ځمکې نښې او معجزې وروښی ، قال الله تعالی: {سبحان الذي أسرى بعبده ليلاً من المسجد الحرام إلى المسجد الأقصى الذي باركنا حوله لنريه من آياتنا} ژباړه (( پاکي ده هغه ذات لره ، چې بیولی ئې ؤ


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بنده خپل (محمد) د شپې په يوه برخه کښې، د مسجد الحرام نه تر مسجد الاقصی پورې ، هغه چې برکت اچولی دی مونږ دهغه گردراگرد ،ترڅو وروښيو خپلې دقدرت نښې)) تر څو پدې کون اوځمکه اوآسمانونو کې د الله تعالی نښې او معجزې ووينې، څرنګه چې الله تعالی په سورت النجم کې فرمايلي : لقد رأى من آيات ربه الكبرى ما زاغ البصر وما طغى}. ژباړه (( يقينا ده د خپل رب د قدرت هغه لويې نښې وليدې . نه وی اوښتی سترګې دمحمد بل لوری ته ، او نه هم تيرې شوې وې له خپل حده)) يعنی هر هغه څه چې رسول الله (ص) وليدل په پوره توجه او اتقان سره ئې وليدل ، وهر هغه څه ئې وليدل چې بايد ده پدې سفر کې ليدلی وی ، يعنی د ده مبارک نظر الله تعالی په هغو نښو متمرکز کړی ؤ، چې بايد ده پدې سياحت کې ليدلی وی ، الله تعالی ځکه دا لويې نښې وروښودې ، چې زړه ئې قوت پيدا کړی او اراده ئې د کفراوطاغوتونو په وړاندې د مبارزې لپاره ټينګه شي ، څرنګه چې الله تعالی د موسی (ع) سره هم په قران کريم کې ورته صورتحال مونږ ته بيان کړی ، کوم مهال چې موسی عليه السلام جابر فرعون ته ورته ، الله تعالی ده ته د خدايي نښې او معجزې وروښودې ، تر څو ئې اراده ټينګه اوعزم ئې پوخ شي ، اود هغه سرکشه فرعون څخه ونه ويريږی چې خلکو ته ئې ويل : انا ربکم الاعلی، وما علمت لکم من اله غيري . ژباړه : (( زه ستاسو تر ټولو لوړ رب يم ، زه ستاسو لپاره ترخپل ځان پرته بل اله نه پيژنم))
کله چې الله تعالی موسی عليه السلام مخاطب کړ او ورته ئې وفرمايل : {وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَى* قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَى غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَى* قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَى* فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَى* قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولَى* وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَى* لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى} ژباړه: ((اوڅه دي ستا په ښی لاس کې ای موسی، نو وويل موسی دا همسا ده زما، چې تکيه کوم پردې، او ځنډم پردې پاڼې د ونې چې تويې شي پر پسونو زما، اوپدې همسا کې زما نورې هم ډيرې اړتياوې دي. بيا وفرمايل الله تعالی، چې وغورځوه داهمسا خپله ای موسی، نوبې وغورځوله خپله همسا، نو ناڅاپه شوه مار دا همسا، چې منډې يې وهلی ځغلنده. بيا و فرمايل الله تعالی موسی ته، چې ونيسه دا همسا او مه و يريږه! زر به راوګرځو مونږ ستا دا همسا هماغه لومړنی شکل ته. او پيوست کړه خپل ښی لاس تخرګ ته، چې راوبه وځي تک سپين روښانه اوځلانده، بې له عيبه. حال دا چې دا معجزه ده بله د دې لپاره، چې دروښيو تا ته ځينې له هغو معجزو څخه، چې ډيرې لويې دي)) دا معجزې الله تعالی موسی(ع) ته د دې لپاره وروښودې تر څو يې اراده وعزم پوخ شي ، او اسلام ته د دعوت په لاره کې استقامت وکړی شي .
سربيره پدې چې اسرا اومعراج د رسول الله (ص) لپاره د الله تعالی له اړخه تکريم اوقدرداني وه ، خو د دې تر څنګ دې پيښې د مسلمانانو په راتلونکي ژوندانه کې ځانګړی اهميت درلود ، ځکه چې پدې شپه په مسلمانانو لمونځ فرض شو ، الله تعالی خپل غوره پيغمبر دمسجد الحرام نه دشپې په اوږدو کې بيت المقدس ته يووړ، اوله بيت المقدس څخه ئې سدره المنتهی ته پورته کړ ، ترڅو لمونځ وربانديې فرض کړی ، اود مسلمانانو په ژوندانه او ټولنه کې ئې د دې فريضې له اهميت اوارزښت نه خبر کړی ، هغه فريضه چې د بنده او الله تعالی تر منځ رابطه قايموی ، پدې فريضه کې په لومړی ځل پنځوس لمنځونه فرض کړی شول ، بيا رسول الله (ص) د موسی عليه السلام په اشاره پرلپسې د الله تعالی نه د خپلو امت اړوند د تخفيف غوښتنه کوله ، تر څو چې پينځه لمنځونه فرض شول ، او ويل شوی ، چې دا لمنځونه په عمل کې پينځه لمنځونه دی ، خو اجر ئې د پنځوسو لمنځونو دی.
که د رسول الله (ص) پورته کيدل سدره المنتهی ته د هغه مبارک (معراج ) دی، خو د هر مسلمان معراج دالله تعالی لوری ته دهغه لمونځ دی. دا پوښتنه پيدا کيږی ، چې ولي رسول الله (ص) د مسجد الحرام نه آسمانونو ته پورته نه شو؟ ولي يوځل بيت المقدس ته دشپې په اوږدو کې يووړشو، او بيا له هغه ځايه آسمانونو ته پورته شوو ؟ بيت المقدس ته درسول الله (ص) وړل ، مقصود کار ؤ. هلته رسول الله (ص) ته د الله تعالی دقدرت دلايل او نښې وښودل شوی ، په هغه ملک کې چې مسجد الاقصی او بيت المقدس واقع دی الله تعالی ډير ظاهری او باطنی برکتونه ايښی دي ، له مادی اړخه له سرشارو چينو ، نهرونو، غلې، ميوې، اود نورونعمتونو وطن دی، او په روحانی لحاظ د پيغمبرانو او رسالتونو کور او مدفن دی.
په بيت المقدس کې رسول الله ته د پيغمبرانوهرکلی ويل ، او د هغوی امامت کول ځانته دلالت لری . هغه پدې دلالت کوی ، چې ګواکې مشري يوه نوی امت اونبوت يوه نوی پيغمبر ته وليږدول شول . يو نړيوال نبوت د ټول بشريت لپاره نبوت، نه دا چې پريوه قوم او يوې زماني پورې منحصر وی، دا دټولو خلکو لپاره د قيامت تر ورځې نبوت دی، دا دهرې زماني او هر ځای لپاره نبوت دی، دا هر اړخيزه رسالت دی، چې دې قيامت تر ورځی به روان وی د پيغمبرانو امامت پدې دلالت کوی، چې دا د همغه نبوت سلسله ده چې الله تعالی د بشريت دلارښوني لپاره پيل کړی ده، اود اذل نه تر ابده د دې لارښوني نوم اسلام دی. خودا ځل د دې نبوت ځانګړتيا دا ده چې داد ټول بشريت لپاره نبوت دی. دپيغمبرانو اورسالتونو ځمکې ته، چې پکې ابراهيم ، اسحاق ، موسی وعيسی عليهم السلام وو، د رسول الله (ص) تلل، پدې دلالت کوی چې دا ټوله يوه سلسله ده ، دا ټوله دالله تعالی له لوری ده ، او دا نوې پيغمبری اوقيادت هم د الله تعالی له لوری دی .

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اسراء اومعراج د دې نوی نبوت او نوی امت يوه رباني معجزه ده ، چې له نورو نبوتونو او امتونو ځخه يې بيلوی . الله تعالی دی د دې ربانی معجزې برکت پردې امت کيږدی ، ترڅود خپلوديني او انساني مسوليتونو اړوند استقامت وکړی شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ